مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح الدین سعیدی ۲۰۲۱/۰۳/۰۶

# د ژغورني لارا!

## (د جناب عبدالغفورلېوال د ليکنې په تړاو او مطالبې)

په هغه ټولنه کې چې د وطن واکې د اپالتون د نظرې پر بنياد د فيلسوفان، پروفيسوران او ... سره وي، نو ګويا مشکل حلېږي. زه دوی بايد لږ دقت ته راوبولم او وړاندې لاړ شم. ووايم او وليکم چې: که په دې توګه د حاکميت صلاحيتونه او حاکميت د فيلسوف، ماسترانو، دوکتورانو او يا د اکسفورد او هاروارد له پوهنتونو فارغو او استادانو په لاس کې د لازم مشروعيت نه پرته ورکړل شي او حاصل شي او هلته له مسکو، بن، قطر- دوحې نه مشروعيت تر پراشوتي تحميل کړای شي، داسې حاکميتونه، تجريد شوي، ملت ته غريبه او بيګانه حاکميت او ملت هغه يو خارجي او پردی موجود پېژني او خلک يې د ځان نه بولي. بيا بعدي د ارګ او د محراب د نږدې والې ښې آرزو ګانې له ښې ارادې سره سره ناکامې هڅې په دې شي چې پر غلطو مېتودو او د موضوع نه ناخبرو کسانو په لاس اجراء کيږي. نتيجه او پايله داشي چې ډېر زماني، مادي او معنوي مصرف کيږي، ډېره وينه او خزانه مصرفه شي، امانتيجه او پايله دغه شي لکه څنګه چې د افغانستان په تېرو څلورو لسيزو کې وشول. روستی لسيزه کې نيمه لاسته راوړنې د وخت، مصرف او هڅو په تناسب او د نيمه مشروعيت له کبله هم د منلو وړ نه دي او ډېر فرصتونه په ښکاره ضايع کړای شول. زمونږ ملاتړ او فعال ملاتړ ، تأييد موضع دغه برخه کې د پرګمتيک سياست نتيجه وه او ده. بل الترناتيف مو له دغه نه هم بد وه او دی. دلته سپارښت کوم او اپالتون ته وايم چې بهترين حالت هغه دی چې فيلسوفان، متخصصين، پروفيسوران او د عالي زده کړو خاوندان مو د دولتداری او حاکميت د رسېدو لپاره بايد اول د ملت نه مشروعيت تر لاسه کړي او ددغه مشروعيت پر بنياد خپل علم او پوهه، د انساني ورته ټولنو له تجاربو نه په ګټه پورته کولو او په ورته ټولنو او د هغوی د تأريخ، د ټولنې د ريښتي نبض، د ودې د کچې په نظر کې نيولو سره دولتداري او زمام داري وکړي. که دا لوړې زده کړې د نورو متفاوتو ټولنو، متفاوت تأريخ او متفاوتو ارزښتو تقليدی کاپي او دغه وطن او خلکو ته د غير ثابت تعهد افرادو لخوا وی، چې په تېرو دوه لسيزو کې يې په افغانستان کې يې شاهد وو، نو بيا غميزه اوړده ده. د کابل بانک اختلاس د افغاني مديرانو ابتکار او خلاقيت نه، بلکې په ورته ټولنو کې په ورته توګه نور بانکونه هم همداسې د بهرنيو مشاورينو او همکارانو له خوا لوټ شوي او ورته تجاربو جنايي تجاربو نه ګټه اخيستل شوې. شرقی اروپاء کې په د تېرې پېړۍ به نيمايي کی او نور بيرته پاتې هېوادو کې چې د ديموکراسي او آزاد بازار اکټ او تمثيل کوي ورته جنايات او اختلاسونه به کاملاً ورته توګه او ورته ميتودو صورت ميندلي دي. و دا جنايی تخصص او تجارب وه چې دلته زمونږ په هېواد کې هو به هو وکارول شول او د هغه تاوان صرف يوه برخه کې، په يوه قلم چک کې 825 ميليونه دالره نقد ( د افغانستان د وقت يو کلنه بوديجه) د ملت له جيبه ورکړل شول. هو کله چې حاکميت کې جنايتکاره ډلې قدرت ته ورسي( ده ته مافيايي حالت وايي)، نو بيا د نوو زده کړو پر بنياد، چراغ په لاس، د پوهې پر مټ، ورته غلاوې او اختلاسونه کوي. داسې حاکم مديران چون مشروعيت او قدرت رسيدل يې د پردو په لاس ده نو بيا د ملت نه ډار په ده نلري. که دوی د ملت په زور حاکميت ته راغلي وای، ملت ټاکلي وای نو بيا يې د رټلو صلاحيت هم ملت لرو، ملت او قانون ته به جواب ګو وای، نو بيا د ملت او د قانون له حاکميته ډاره او ملت به ورته د دوی د تخلف په صورت کې مشروعيت سلب او سلب صلاحيت به کړای وای او د تخلف لپاره به د قانون حاکميت پرې متناسب قضاوت کړای وای. او خو دقضاوت او محاکمې ډول هم فرمايشی شو او ېوازې د بانک د اوډيټ او د حساب د کنترول لپاره انګليسي کمپنی ته د بانک داختلاس روسته بيا هم ۱۲ ميليونه دالره حق الزحمه ورکړل شوه او په يوه حالت کې د مقروض قرضه د څلور طيارو قيمت چې د استهلاک مرحلې ته رسيدلې وې او نور د پرواز ختم ته نږدې وې، د بازار له نرخه په څلور



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

برابر لوړ قیمت ددوی د قرضو مجرایی ورکړای شوه. که ملت ددوی د مشروعیت مرجع وای او قانون حاکمیت درلودلای، نو بیا د ملت سره به یې لازم احتیاط هم کاوه او داسې ښکاره دوکې به یې نه کولې. د ملت او عدالت خاطر به یې هم ساته . د الله (ج) ډار خو یې لا په کعبهٔ شریفه کې د قسم خوړلو روسته له مات کړ.
زمونږ بل ستر مشکل همدا د ابن خلدون وچ سپارښت دی چې ممکن ابن خلدون داسې نه غوښتل خو که د نورو ټولنو د تجاربو په استعمال کې د نوې ټولنې د انکشاف او ودې سطحه او کچه په نظر کې و نه نیول شي او وچ تقلید ته مخه کړي او بهرني قوانین ښواځې ترجمه او تطبیق کړي او داسې حرکاتو ته متوسل شي، چې ډېر ځلې په روستیو دوه لسیزو کې افغانستان کې شوي دي، نو بیا دا کار ستر مشکلات راپاروي او پارولي هم دي ، داسې مشکلات او کړکیچونه چې د هغه مرمت او اصلاح بیا نور ستر مصارف ایجابوي. د نوم، شهرت، اعتبار او عزت خبر خو لا پریږده پر ځای.
داسې موارد شته چې د لوړو زده کړو خاوند، هغه چې علم او پوهه یې یواځې د بهرنیومنابعو او شوک ترافی او پوهې ولاړه ده، د افغان ملت د استعمار ضد او استقلال طلبی مبارزو پورې عملاً ملنډې وهي او ورته درست کار نه ښکاري، تأکید لري چې د وطن استقلال حاصل شوای نه بلکې ورته ورکړل شوای دی. هره ولو بده سوله ورته له جګړې بهتره ښکاري او سیاسي مصالحې د روستیو پروژولاملونه د غلطو منابع له ادرسه لټوي او حلول غواړي او دغه پروژه کې ورته د افغان ملت رول او اولې مقام، له سره له سترګو لوېدلای او بې اهمیته ښکاري او بولي.
راشو دا معتدلې لار ته: دا زما سپین او هغه د طالب سپین دي. ما پرې شهیدان لرلي او طالب پرې خپل. ماته د حاکمیت مشروعیت له ملته، یو شخص یوه رایه او طالب ته شورای حل او عقد او یا امریکې رانه قدرت تصرف کړای او امریکه دې بېرته راکړي، هغه ښکاره شف شف کوي او زه صراحت غواړم، ماته د خپل او د بل عزت حد مالوم، خپل عزت د بل په بې عزتی کې نه وینم، خو هغه بل مې ړنګول، سیستماتیک نابودول غواړي او په تأریخ کې د شوو ظلمو انتقام له ما اخلي. زما غورنیکه ته د وخت حاکمیت په ترکستاناتو کې دولتي زمکه توزیع کړې او ورکړې وه. درې نسله مې پرې کار وکړخو اوس یې رانه په جبر اخلي او نوم مې هم تروریست شو. د دین، مذهب، ژبې، قوم، رنګ او پوست په خاطر مې چې حتی اکثر مواردو کې میراث راپاتې او یا زما انتخاب هم نه وه او یا نه دی، وژني... **نو دې کې څه اعتدال غواړې؟** یا برحقه یم، یا ناحقه. دلته افراط او تفریط څه کې دی؟ را لنډه یې کړم : د افغانستان قضایا د حل عادلانه لارې لري. دا عادلانه لارې هر اړخیز برخورد ته اړتیا لري. ښه قوانین، د عصر او اسلامي، افغاني ټولنې سره برابر قوانین، د قوانینو تطبیق، نظارت او کنترول.
که سارنوالي اتهام تړي چې کابل ښاروالي تخلف کړای. د کابل ښاروالی حقوقي ټیم هغه باید استقبال او حقوقی پروسې باید له کوم مانع پرته طی شي . انقلاب، د نهادونو تعلیق، ړنګول، په دوحه او بن کې د سیاسی مذاکرې پر ځای په ارزښتونو تصمیم، د بن تیاتر، ناټک او لویه تکرارول او داسې نورې مشادې او تیاتر د قانونیت او نهاد سازی نه پرته او د افغانستان په ټاکنو کې لازم تیاری نه نیول، لویه جرګه به تأریخی، مشورتی، عنعنوي نومو بدنامول، او د جان کیري ناجایزه مداخلات او ... ټول هغه موانع دي چې د حل لارې پېچلې کړي او کوي . د افغانستان د اوسني بحران لاملونه داخلي او بهرني، زمونږ په لاس او زمونږ له لاسه بهر دي. د افغانستان جګړه نړیوال ابعاد لري،او افغانانو د نړۍ لپاره اول خط کې قرباني ورکړې.
**اوس نړۍ ته په کار ده چې د افغانستان او سیمې د سولې او استقرار لپاره او د دوی د خپل امنیت لپاره، خپل رسالت اداء، د کړکیچ د حل لار د قانونیت لار ده. دا لار په تداوم او د افغانستان د پارلماني او ریاست جمهوري مخکې له وخت انتخاباتو لپاره د لازمو الزمو تابیاوو سره سره مرسته وکړي. دا هغه الر ده چې ټولې خواوې باید پرې تمرکز وکړي او عملي جوانب یې د سیاسي مذاکراتو په چوکاټ کې حل او نهایي کړای شي . مونږ ته په کار ده په دوامدارهتوګه تنویر او افشاء ګري وکړو ، حق او دهغه منطق عام کړو. د ملت خدمتکارانو ته د رشد مرسته وکړو او متخلف تجرید کړای شي.**
زه باور لرم چې دا د حل د لارې د ریښتني میتودو، قانوني او عملی مشروع لارې دي

و من الله التوفیق
داکتر صالح الدین سعیدی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ